


Vlaanderen
is zorg

# د نري رنځ معلومولو لپاره

## تبرکولین د پوستکي ازموینه

AGENTSCHAP
ZORG & GEZONDHEID

## آیا تاسو لا زیات معلومات غواړئ؟

د خپل طبيب سره خبرې وکړئ.

**www.zorg-en-gezondheid.be** وګورئ يا په خپل ولايت کې "Zorg en Gezondheid" اژانس سره اړيکې ونيسئ:

- **انټورپ:** 04 62 224 03
- **ليمبرګ:** 40 22 74 011
- **شرقي فلينډرز:** 80 13 276 09
- **فليميش برابانټ:** 80 13 276 09
- **غربي فلينډرز:** 00 79 24 050

**www.vrgt.be** وګورئ يا په خپل ولايت کې د فليميش "Vereniging voor Respiratoire Gezondheidszorg en Tuberculosebestrijding" ( د نري رنځ او سږي د روغتيا پاملرنې مؤسسه) (VRGT) سره اړيکې ونيسئ:

- **انټورپ:**
  **برچيم:** 03 287 80 10 - ټرنهاؤټ 014 41 13 62
- **ليمبرګ:** 011 22 10 33
- **شرقي فلينډرز:** 09 225 22 58
- **فليميش برابانټ:** 016 33 25 25
- **غربي فلينډرز:** 059 70 26 85

ريسپ. ايډ.: Dirk Dewolf, Agentschap Zorg en Gezondheid - 12/2014

Uit het Nederlands vertaalde folder die ook in het Nederlands te verkrijgen is via bovenstaande contactgegevens

VRGT
Vlaamse Vereniging voor Respiratoire Gezondheidszorg en Tuberculosebestrijding vzw

Agentschap Zorg en Gezondheid
Koning Albert II-laan 35 bus 33
BRUSSEL 1030
**www.zorg-en-gezondheid.be**

## د اړيکو څېړنه څه ده؟

هغه خلک چې د ساري نري رنځ لرونکيو ناروغانو په شاؤخوا کې وي د هغوي څېړنه کيږي چې وکتل شي آيا دغه کس د ناروغه کس په ناروغۍ ککړ شوی يا هغوي په خپله ناروغه دي. په دغه څېړنه کې د نري رنځ د **پوستکي ازموينه يا د سينې ايکس رې شامل دي.**

د ناروغه کس په شاؤخوا کې اوسيدونکي کسان بايد وڅېړل شي چې د ککړتيا سرچينه معلومه شي.




**تبرکولین د پوستکي ازموینه (مینټاکس ازموینه یا د پوستکي دننه ازموینه) ترسره کیږي چې دا په ډاګه شي چې آیا تاسو په تیوبرکل بیسیلیس (کوچیز بیسیلس)، ککړ شوي یاست کوم چې د نري رنځ لامل جوړیږي. په عام ډول دا د سږو د نري رنځ صورت اختیاروي، دغه ناروغي کله کله په پښتورګو، هډوکو، مغزو، ګلینډز او نورو اندامونو اغېز کوي.**

## دغه ازموینه څنګه ترسره کیږي؟

د **بهیدونکي مادې (تیوبرکولین) یو کوچنی مقدار** د پیچکارۍ **له لارې د یو کس د مټ په سم اړخ کې دننه کړل شي.** د ازموینې څخه وروستو د ازموینې نتیجه یو دوه ورځې وروستو کتل کیږي.

تیوبرکولین د پوستکي ازموینه خطرناکه نه ده او په کوچنیانو یا امیدوارو ښځو هم ترسره کیدای شي.



## نتیجه منفي ده

که چیرې د ازموینې نتیجه **ستاسو په مټ د ښکاره عکس العمل** څرګندونه کې بریا نشي دا په عام ډول معنا لري چې تاسو احتمالاً په تیوبرکل بیسیلیس کې ککړ نه یاست.

په ځینو پیښو کې دوه میاشتې ورستو کنترول ازموینه ترسره کیږي.

## نتیجه یقیني نه ده

که نتیجه یو **کوچنی پړسیدلی ځای** وي کوم چې ستاسو په مټ زیړ رنګ لري، دا په ډاګه نه ده چې آیا تاسو ککړ یاست یا نه.

که د نتیجې په هکله کوم غیړ یقیني کیفیت وي دغه باید تل یو کرت بیا ترسره شي (په عام ډول دوه میاشتې وروستو).

## نتیجه مثبت ده

که عکس العمل د پوستکي د **پړسیدلي او کلک ځای** شکل اختیار کړي، دا معنا لري چې تاسو ککړ شوي یاست.

د مثبت تیوبرکولین پوستکې ازموینې په صورت کې تاسو باید **د سینې ایکس رې** وکړئ چې دا وکتل شي چې نري رنځ وده کړې که چیرې ایکس رې نورمال وي، تاسو ککړ شوي یاست خو ناروغه نه یاست او نه د نورو لپاره تتیدونکي یاست.

په ځینې پیښو کې دا سلا ورکول کیږي چې د شپږو میاشتو په ترڅ کې یوه دوا واخیستل شي، او دغه رنګه وروستو د نري رنځ لګېدو امکان شاؤخوا 80% کموي.

که چیرې د سینې ازموینه د نري رنځ لیسیینز څرګندوي، تاسو باید درملنه پیل کړئ. بیا تاسو باید درې طبي تولیدات په منظم ډول د لږ تر لږه شپږ میاشتو لپاره استعمال کړئ.

## مثبت توبرکولین د پوستکي ازموینه

- د سینې ایکس رې نورمال دی
  - ↓ ککړ شوی خو ناروغه نه دی
  - ↓ **تمبوونکې درملنه**
  - یو درمل استعمالول
  - د لږ تر لږه شپږ میاشتو لپاره
- د سینې ایکس رې نورمال نه دی
  - ↓ ککړ شوی او ناروغه
  - ↓ **درملنه**
  - درې یا زیات درمل د لږ تر لږه
  - شپږ میاشتو لپاره استعمالول